جنید باتور ۲۰۱۱/۱۰/۱۶

# تاسو وو ایی استاد ربانی شهید دی که ... ؟

نه دچا می مال خوړلی دی اونه می څوک وژلی دی داکه می گناه کنی ،چه ظالم ته می په بد نظر کتلی دی

مخ له دی نه چه اصل مطلب ته ورننوځو یوه کیسه را یاده شوه چی زما د سترگو په مخ تیرشوی دی. کیسه داسی وو، کله چه د ښوونځی په اوم اتم صنف کی زده کوونکی وم د ښوونځی مدیر چه د پوهنی وزارت له با اعتباره کدرونو او د لوړو درجی تحصیلاتو خاوند و، د شوونځی د نوی ودانی د ودانولوله درکه د اختلاس او ناوړه استفادی په وجه باندی تر تحقیق لاندی ونیول شول، چی په پایلو کی کله چی د موثق اسناد او شواهدو پر بناء خیانت او جرم ورباندی ثابت شول او باید محکمی ته راکښ شوی او په سزا رسول شوی وی، دهغه وخت د اړوند مراجعو د پیشنهاد په مقابل کی دهغه مهال د پوهنی وزیر داسی امر ورکړ چه:

« ملاحظه شد! هرگاه این بدبخت سارق چراغ بدست که حفاظت و امانت دارایی عامه و حرمت تحصیل را رعایت نکرده و خودهم به گناه و جرمش معترف و نادم است به احترام مقام علم و اسناد علمی و تحصیلی اش پول های حیف و میل شده بیت المال از نزدش حصول و از مربوطات و مهد و کانون معرفت و دانش صلاحیت هایش سلب و رانده شود و بجایش شخص پاک نفس و صاحب تقوا پیشنهاد گردد». د قضیی پای او د پوهنی د وزیر د امر بهیرنه بیا وروسته اروابناد عزیزاحمد «الکوزی» چه په هغه مهال د اداری رئیس او وروسته د اداری معین هم وشو د یوی کورنی خصوصی غونډه د مثال په توگه مونږ کورنی مشرانو ته نقل کړی وای.

خو اوس راشو اصل مطلب ته، دا یو ځرگند حقیقت او منل شوی واقعیت دی چی دهری کورنی، قام او ټولنه نیکمرغی، سوکالی او پرمختیګ د پوه، صالح او نیکنامو وګړو د روغ او سالمی ذهن، تفکر، لاربنوونی اوعمل محصول دی. او هغه ټولنه هغه مهال د ترقی او تکامل، سوکالی او امن استقامت لوری ته تلای او موخو ته رسیدلای شی چی سرچینه مخگښان او مشرتا به یی د ټولنی، خلکو اوهیواد سره ربښتینی مینه او ځان تیرید نه ولری، مجرب او د کارپوه، با کفایت او د لار ښوونی صفات او ممیزاتو ښخه واقعاً برخه من او ښایسته وی په ربښتیا د ټولنی او ملت د اکثریتو د تایید وړ او د آزادی ارادی او ملاتړ په وسیله مینځ ته راغلی وی او د دوی کتو او مصالحو ته مخلص، وفادار ساتندویان وی. په عکس صورت کښی تجربه ښودلی ده چه هر ډول سیاسی، اقتصادی او ټولنیزو بدلونو او پر مختیګ نا ممکن او انتظام او پوښتنی کډه کوی اوهغه کورنی، ټولنه یا ملت د نیکمرغی او ترقی پرځای د لا بدمرغیو او مصیبتونو کندی ته غورځیږی.

دا هم یو ځرگند او روښانه خبره ده چی پدی مهال او مرحله کښی بشری ټولنی او په خاصه توگه د افغان ځوان نوی نسل له هر وخت نه زیات تاریخی معلومات او آگاهیو ته اړتیا لری، چه د خپل لاره او نظر د پاره ډیوه وگروځوی ځکه چی تاریخی معلومات او آگاهی دی چی د محرکی قوی په حیث خپلی د اهمیت وړ ځای او مقام موندلی دی، او د هغی په وسیله د نړی نه یوازی طبیعت او ټولنو د پیژندنی اوودی د پاره ممکن دی، بلکه مهم اړخ یی د کړکیچنو او بغرنجو مسایلوته چی د انسانانو پر مخ قرار نیسی حل وکړی او ستونزو ته د عادلانه کتوری حل لار پیدا کړی.

نو پردی بناء تاریخ یوازی د واقعاتو او رویدادونو لیکل، یادونه او اشاری ندی، بلکی دا واقعی تاریخ دی چی په زړه پوری او رسا غږ مونږ ته وایی چه ټولنی ولی پدی ښنگ غورځی او یا پدغه استقامت ځی یا روان دی. او دغه بهیر یا حرکت ځرنگه د انسانانو په فعالیت او ژوند « نیکمرغیو او بدمرغیو» کښی اثر او تراو لری. پدی کی بشپړ یقین دی چه د بشری ټولنی تاریخ داسی وډه کړی او پرمخ ځی چی هیځکله پای یا انجام نلری، یعنی ترڅو چه جهان موجود دی د نیکو او بدو « حق او باطلو» پدیدو ترمینځ مجادله او مبارزه جاری دی، هیځکله تغییراو توقف نه منی.

لذا پدی ترتیب چی مبارزه او مجادل د تاریخ بنیادی او بنسټیز مواد تشکیلوی، دعلمی، فرهنگی، سیاسی او اقتصادی تجاربو لپاره ډگر او صحنی جوړوی، چی په نتیجه کښی بشری ټولنی بدلون او تحول مومی، نو د دغه رویدادونو او تحولاتو دعلل توضیح او تشریح کول ډنډه هم تاریخ په غاړه کی نیسی چی ددی اصل په ملګرتیا انسانان په مختلفو زمانو خپل تجربو تدوین او تعمیم کړی دی او په عین زمان همداسی ددی تجاربو ښخه زده کړی او پند اخیستی دی، ددی ټولو ذکر شویو او نورو مرستندویو فکتونو او موادو په رڼا کی د خپل ژوندانه د چارو کړنلاره او پوهه تاکلی او



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

پرمخ بیولی. « زده کول هغه دی چی مونږ ځان پوه کوو او ورنه کار اخلو، او عبرت هغه دی چی ځان خبر کړو او له هغه نه ډډه کړو». چه دغه کار سر بیره د محققینو او مورخینو په ځانګړی توګه د ژورنالستانو رسالت او مسؤولیت د ورځنی تاریخ لیکونکو په توګه له همدی ځای نه تاکل کیږی او څرګندیږی.

دا څرګندې ه ده چی په هیڅ دین او آیین کی سړی وژنه جواز نلری او مونږ د اعتقاد او اخلاق پر بناء د هیچا په نا حق وژنی یا قتل خوښ او راضی نه یو. حتی چی د اسلامی شرعی حدودو او حقوقی اصلونو پر بناء د یو قاتل یا جنایتکار په وژنی سره پرته له ثبوت او محاکمی هم عمل کول انسانی طبعی حقوقو سره لوی جفاء بیعدالتی او له حدودو او اصولونه انحراف او سرغړونه او دغه عمل خپله یو بل ستر جنایت ګڼل کیږی.

زمونږ د خلکو غوښتنی هم همدی ځای کی دی چی ای کاش دغه ټول وژل شوی کسان چه افغان ولس او هیواد تباه کړلو او د ننی مصیبتونو او بدمرغیو اساسی نقش لوبونکو او عوامل و، ژوندی وای او د خپل ځان او تیرناوړه اعمالو څخه خدای دعدالت قانون سره سم او د ملی محاسبی او تصفیی ته غاړه ایښودلی وای او د وارد شویو فکتونو او اتهامونو په هکله دفاع کولی او برائت یی اخیستلی وای او د خپل عملو په ذریعه خپل ځای مشخص کړی وای.

خو په خواشینی سره دا د ځاله او نوی ارتجاع او استعمار فطری خصوصیت دی لکه چی پورته ذکر شو خپل ایجنتان او ګوداګیانو ته کله چی ورکړ شوی ډنډو یی ترسره کیږی، نور شتون او موجودیت یی د خپل په ګټو نه وینی چی د پټو رازونو او حقایقو د افشاکیدلو لامل ګرځی، نو ځکه یی په مختلفو ذرایعو او وسایلو هغه له مینځه وړی او وژنی یی پدیل او بل مهری ته تمسک په لاس ورکوی په بل بڼه او جامو کی استخداموی.
خو خبره داده چی په افغانستان کی په دی څه د پاځه ډیرش کال کښی د ولس او هیواد په سرډیری معامله ګران قاتلان، ګناهکاران له نور محمد ترکی نه تر آخره پوری مطرح وګړو که کین لاسی وو یا ښی لاسی چی د افغانستان د سرلوړی قومونو په مینځ کی ځای نلری او استازی ندی مخ کی له دی نه چی د ولس او قانون د عدالت په منګلو وسپارل شی، وژل شوی دی، پټ اسرار او رازونه خاوری ته یوړل شوی. همدا لامل ګرځیدلی دی چی د مصیبتونو او بربادیو لړی ملت لپاره د یو نافرجام سریال په توګه بدل شوی. د دوی شریکان او انډیوالان یی هم چه پاتی دی هغوی هم په زرنګی د رامینځته شویو شرایطو سره پوښتنی اوعدالت ملی محاسبی او تصفیی هم وژنی او ښخه وی او ځانونه هم وبخښی چه پدی ترتیب ښاغلی حامد کرزي پرته له ویری حاتم وار سر بیره د بخښنی د هریوی په وژلو سره د دوی د ډلی په غوښتنی او سپارښت باید وژاړی او یوه وینا هم وکړي او د ملت د شهیدانو وینه او د هیواد مادی پاتی هستی هم ددوی د مړیی په قدمونو کی ځار کړی او د خاص او عام لپاره زیارت ترینه جوړکړی. افغان ویښ او بتور اولس پدی آګاه دی چه هرشی سرچپه شوی دا ټول د بن د ناسنجول شوی او بی بنیاده بریکړی او د ښاغلی اوباما سوغاتونه دی چه د افغان ولس او تاریخ له نظر او قضاوت نه لری پاته کیدای نشی.

ګرانو لوستونکو ! پدی کی شک نشته چی د علم او معرفت مقام او منزلت هرچا ته څرګند دی چی ډیر لوړ اوچت دی وګړی، ټولنی او ملتونه د نیکمرغی، سوکالی او پرمختګ لپاری دعلم او فضیلت د ډیوه په وسیله، موندلای شی او د تورتمونو او بدمرغیو څخه نجات مومی. کوم محیرالعقول پرمختګونه چی په نړی کی لیدل کیږی د علم او معرفت محصول دی. نو لدی ځایه د عالمانو او پوهانو عزت او درناوی ضروردی ځکه چه عالمان د انبیاو وارثان ګڼل کیږی مشروط پردی چی علم خلکو ته نافع وی او عالم د هرڅه نه مخکی خپله دعلم او پوهه قدر او عزت د عمل په ډګر کی وساتی او پلی کړی. **خو مونږ ژوندی شاهدان یو چی استاد ربانی د اسلام تر بیرغ لاندی کومه مبارزه چیله له اندیوالانو سره د کابل د پوهنتون نه دکمونیزم او کمونستانو په مقابله پیل کړی وه د سردار محمد داود خان د جمهوری رژیم په اعلانیدو له خپل هیواد څخه وتښتید د باران وتښتیدله او ناووی لاندی کیناست علم او افغانی غرور او ممیزاتو تر پښو لاندی کړ، او د پاکستان د ذوالفقارعلی بوتو، او ورروسته د جنرال ضیاء الحق او « آی، آس ، آی » په چوپړ کی قرار ونیول چی افغانستان نارامه او ویجاړ کړی او افغان وژنی تر څو چه یوځای آباد او یو افغان ژوندی پاتی نشی.**
همداسی د اسلام او مسلمان له نظره د مجاهد کلمه ډیره سپیڅلی او د احترام وړدی. خدای تعالی او مخلوق یی رښتین فی سبیل الله مجاهد ته ډیر لوړ مقام قایل دی، نازوی او قدر ورکوی. خو مونږ ولید و چی استاد ربانی د قدرت د تر لاسه کولو د پاره د جهاد او مقاومت په دوران کی د وینی څښونکو شوروینانو دربار ماسکو ته ورغلل او د «۸۰۰» ملیارد دالر جنګی غرمات، د شوروی اسیرانو خوشی کیدل او د ملی روغی جوړی او د افغانستان د پاره د ملل متحد د ژینوا د سولی پلان د له مینځه وړلو او د ملی نفاق او کرکه اچولو او لمن وهلو په بدل د غلامی غاړه کینودله، او ژمنه وسپارله.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

همدا ډول پاچا یا اولولامر ته  د اسلام له نظره ډیراوچت او د پیروی او احترام مقام ورکړ شویدی. په دی شرط چه د خدای تعالی په اوامر او نواهی او د رسول « ص» په فعل او قول مطابق سمبال وی او د ټولنی او ولس د خیر ښیگڼی امن، سوکالی، مصالحو او ګټو په ساتنه او چوپړکی قرار ولری. خو په خواشینی سره د افغانستان خونړی تاریخ تر ټولو توره اونه هیریدونکی پاڼه او مرحله له یاده نه وړی،  په ځانګړی توګه د کابل ښاریانوته دردوونکی دا دی چی استاد او ډله یی دا وخت په ښکاره او رسمی توګه د خپلی ژمنی د پلی کیدو کوم چی د مسکو، تهران او اسلام آباد سره درلود د قدرت د غصبولو د پاره کارمل د کمونستانو او ستمیانو سره یو ځای ګډ حکمرانی د وطن د مور په ننګ او ناموس باندی داسی معامله وکړ چی د وینو سیلاب یی تر اوسه لا بهیږی. یا په بل عبارت د ګردنی د غلو، لوتمارو او ملحدو کمونیستانو سروالی په غاړه واخیست، مشهور بالفساد کمونیست رشید دوستم ته ستر القابونه لکه خالد بن ولید او مجاهد کبیر، ستر جنرالی او د ریاست جمهوری مرستیالی برخه او ډنډه ورکړشول، جنرال حمید ګل رسما د مشاور په حیث وټاکل شو چی په نتیجه کی د کابل څه د پاڅه د پنځه شپیته زره نر، ښځی واړه او ځاله بیګناه ښاریان تباه او په دریمی کارتی، خوشحال مینه، سید نورمحمد شاه مینه او نورو ساحو د خلکو پر دینی او ملی نوامیسو باندی داسی بیرحمانه وژنی او تیری وشو چی ساری نلری د چنګیز، هلاکو، ستالین او نورو جانیان مخ سپین کړ، د کابل کورنی دی ته اړشول خپل مړو ته  پریږدی، او هر څوک ځانته نجات ورکړی او وروسته له دری څلورهفتی لارشی او همالته ځای پرځای مړ و ښخ کړی. اوس کوم بهیر چی را روان دی کوم نوی خبر ندی چی پاکستان، یا روسانو او نور لاسه وهنه یا تجاوز کوی یا اډی حوړوی. خپل حق ګڼی دوی روزلی، رباندی خرچ کړیدی. بناءً  ترڅو چی دا آش وی او دا کاسه همدا حالت خامخا روانیږی او له بد، بدتره یی هم هره شیبه شرایط او زمینه سازی لاروان دی.
له بلی خلک وایی چی : که ښپه تیاره ده ، خو مڼی په شمار دی، دروغ ویل او کاذب او تصنعی شخصیت جوړل په مزل نرسیږی.  ټول پوهیږی چی استاد ربانی د سولی مینځګړ نه وو بلکی د جګړی وحشت او تباهی یو اصلی اړخ او طرف وو، او ټوله خلک ددی وروستی ویناوی کوم چی د سولی د رئیس له آدرسه د طالبان او سولی په اړوند کړی و په یاد لری چی د کرکه، ضدیت او جګړی ډکه الفاظ وو.

په پایلو کی ښاغلی کرزی چی دومره القابونه په شاخی بادوی او داسی خلعتونه ورکوی چی په خوله کی نه ځاییږی حتی د کاغذ یوه مخ نیسی،  سر بیره پردی دری ورځ ملی ماتم هم اعلان او په ملیاردو دالرو د سفارتونو له لاری د فاتحی او شهید په نوم لګښت ته هم اجازت ورکړی دی، سره لدی چه کابل د پنځه شپیته زره شهیدان چی د ګردنی د غلو او لوتمارانو د سروالی په دوران کی تراو اوسه وچ شوی ندی ، خو د دولس د سترګو اوبه د دیرش کاله ماتم او ژړا لامله وچ شوی دی. تاسو ووایی چی استاد واقعاً شهید دی یا ۰۰۰۰۰۰۰ !!!؟؟؟ که رشتیا شهید دی ښاغلی حامد صاحب یو بل فرمان صادر کړی چی ملت د سترګو د اوبو د وچ والی له کبله یوه هفتی وخاندی او د شهید سروال حق پرځای شی .

پای



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ